مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

روښان خادم ۲۰۱۸/۱۲/۲۶

# د ژبنیو اختلافاتو حل

**کله چي مونږ په کانادا کښې په کال 1990 کښې د پښتنو کلتوری مرکز پرانیست او دځاروان په نامه مو اخبار خپور کړ چي ما یې د مسول چلوونکی افتخار درلود پدغه اخبار کښي ما دژبنیو اختلافاتو د حل په برخه کښې یو مقاله لیکلې وه.دا اخبار راسره نشته چي هغه مقاله کټ مټ ستاسو مطالعی ته وړاندی کړم خو کوښش کووم چي عمده ټکی یې را واخلم اوتاسوهم پری د لوستلو وروسته خپل نظر ولیکئ.**

کله چي د ژبي په باب بحث شوی نو که دا بحث په کنفرانس کښې و، په راډیو ، اخبار ،مجلې او یا هم دځو کسو تر منځه خبری وي نو دا استدلال اوریدل کیږی چي : ژبه د افهام اوتفهیم وسیله ده اهمیت نه لری چي په کومه ژبه خبری کیږی.

زه په دی عقیده یم چي ژبه یوازی د افهام او تفهیم وسیله نه ده بلکی د ملتونو دملی خصوصیاتو او ممیزاتو د پیژندګلوی تر څنګه ددی تولو خزانه هم ده او دملتونو حیات ورپوری نغښتی او تړلی دی د یو ملت د ژبی قوت ، غنا،علمي ارزښت تاریخي قدامت دهغه ملت همدا ممیزات ښئي او ساتی چي ژبه ورکه شی ملت هم ورسره ورک شي لکه په هند او ایران کښي چي پښتانه قومونه ورک شوی او فقط یوازی یو نوم پاتی دی.

څو کلونه وړاندی په کانادا کښې د پښتنو د کلتوری ټولنې په یوه غونده کښې یو هندوستانی پښتون خبری کولی او خپله د پښتونولی شجره یې بیان کړه چي د هندوستان په لودی خاندان پوری یې اړه درلوده. دغه ځوان چي په لیو لیو یې ژړل وویل له ما څخه خپله پښتو ژبه ورکه شوه او په خپله ژبه نیوهیږم په نړی کښې تر ما بی کسه اوفقیرځوک نشته زه ورک یم خبره به را لنډه کړم چي ژبی ته یوازی دافهام او تفهیم د وسیلي په حیث مه ګوری.

په افغانستان کښې د پښتو او دری ژبی تر منځه په ډیرو مسایلو کښي اختلافونه شته دملی او رسمی ژبی په مسله کښې هم ډیر مشکلات موجود دی خو دا مشکلات تول د حل کیدو او رفعه کیدو وړ دی هر څومره چي دا رنګه مشکلات کم شي په هماغه اندازه به ملی یو والی ټینګ شي.

مونږ په افغانستان دوه ملی اورسمي ژبی لرو چي پښتو اودری ده او دواړو ته په اساسی قانون کښي د ملی او رسمی ژبی حیثیت ورکړ شوی نو څرنګه کیدی شی چي ددواړو ژبو دغه ارزښتمند حیثیت بدون له کوم تعصب او تفوق څخه مساوی وساتل شی چي د تخریبی شکایتونو مخه ونیول شی او دمخربو متعصبو هدفمندو اشخاصو مخه ډب شی ددی کار دپاره باید حکومت لاندی کرنلاره غوره کړی:

**اول:**

دحکومت ټولو مقا ماتو ته د ریس تر چوکي پوری هغه کسان انتخاب شی چي دواړه ملي ژبی یې مکملې زده وی اوپه دواړو ژبو داسی تسلط ولری لکه خپله مورني ژبه.

**دوهم:**

د حکومت ټولی فورمي عرایض او کاغذی اسناد دی په دواړو ژبو په یوه کاغذ کښې موجود وی.

**دریم:**

خلک دی اختیار ولری چي په کومه ژبه غواړی خپل مشکل حل کړی او تفاهم وکړی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**څلورم:**

ټول اخبارونه ، راډیو ګانی ، تلویزیونونه ، مجلی او نور مطبوعاتی او میدیایي منابع مجبور او مکلف وی چې په دواړو ژبو یو شان د قانون مطابق خپروني وکړی داسی نه چې یو منبع دی ټول دری او پارسی وی او بله دی ټول پښتو وی.

**پنځم:**

**د حکومت اداری باید په لاندی توګه یو دبل سره مکتوبی ارتباط ونیسی:**

**الف:** که چیرته د کابل څخه ننګرهار، کندهار، پکتیا او یا بل داسی ولایت ته چې هلته اکثریت په پښتو ژبه خبری ګوی کوم مکتوب لیږل کیږی په پښتو دی ولیکل شی.

**ب:** که د همدغه ولایاتو څخه کوم څه بامیانو او یا داسی کوم ولایت ته لیک لیږل کیږی چې هلته ددری ژبی ویونکی ډیر دی په دری ژبه دی مکاتبه وشی.

**ج:** که د ولایاتو څخه کابل سره مکاتبه کیږی فرق نه کوی چې په پښتو وی او یا دری.

**د:** که دداسی یو ولایت څخه بل ولایت سره مکاتبه کیږی چې دواړه د پښتو او یا دری ژبی ویونکی دی یو بل سره دی په پښتو اودری مکاتبه وکړی یعنی پښتو ویونکی دی په پښتو او دری ویونکی دی په دری یو د بل سره مکاتبه ولری.

**هـ:** معارف پ برخه کښي باید داسی یو سیستم جوړ شی چې د ښوونځي فارغین دواړه ملی او رسمي ژبی داسی زده کړی لکه مورنی ژبه چې د حکومت په چوکاټ کښی وکولای شی ددغه وړاندیز په اساس په لوړومقامونوکښی کار وکړی او ژبه د چا مخه ونه نیسی.

**و:** په اردو او پولیسو کښی هم باید دا معیار په نظر کښي و نیول شی که داسی یو سیستم په کار واچول شی فکر کووم ژبنی اختلافاتو لمن به لنډه شی او دملی یو والی د ټینګیدو دپاره به ښه زمینه مساعده شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ